بهرحال ! اين موضوع باهمه سادگي ورواني بازهم خيلي مغلق است ،اما اين قدرداني وسپاسگذاري آقاي بش ازعساكر متجاوز خود درست مانند آنست كه گروهي از دزدان درنيمه شب به منزل شخصي يكي ازشهر يان شبخون زده مال ودارايي شان را تاراج كند وچند نفر ازاعضاي آن فاميل را هم بقتل برساند ولي در جريان برخورد مسلحانه بي كه بين دزدان وصاحب منزل صورت ميگيرد ،چند نفر از دزدان نيز بقتل برسند. روزديگر سردستهٔ اين باندزدان درمحفل عزاداري و يادبود رفقاي مقتول خود ازايشان به نيكي يادكرده وصاحب خانه رامتهم به آدم كشي وبي رحمي كرده وبوي نفرين بفرستد كه عقل سليم ووجدان بيداراازين طرزقضاوت تنگ دارده اينست منطق واستدلال انسانهاي متمدن قرن بيست كه درآستانه قرن بيست ويكم قرار دارند وهرگاه وبيگاه سنگ حمايت ازحقوق بشر را بسينه ميكوبند . باكمال تاسف بايد گفت كه اين طرز قضاوت مادامبكه قانون جنگل برجهان حكومت ميكند ، جريان خواهد داشت ،وتنها وقتي جاي خود را به قضاوت عادلانه وبشر خواهانه وهمه جانبه خواهدگذاشت . كه دين رهايي بخش اسلام اين ضامن خوشبختي دوجهاني نبي نوع بشر درروي جهان تعميم شود. به اميد آن روزفرخنده وروزنجات مستضعفين ازشرور استكبار شرق وغرب.

والسلام

ددښمن ناولي عزائم يواځي دمجاهدينو ديووالي په وجه شنډيداي شي

محمدخليل

دافغانستان هروګړي پدي خبره ښه پوهيږي چي غرب اوشرق دافغانستان دمسلمان ولس په خلاف يوګډ اومشترك سنګرنيولي دي ، هغوي پوخ عزم كړيدي چي په افغانستان كي به دخپلي خوښي حكومت خامخا جوړوي ، مور وبنو چي دي مقصدته درسيدو لپاره هغوي شپه او ورځ يوه كړيده او يوه شيبه هم په كلاره نه كښيني ،داسي به ولي نه كوي آخر ددښمن كار خو دي همدا ،چي خپل مقابل سراوچتولو اوبخپلو پښو ودريدو ته پري نږدي له دښمن نه دادنه كول چي ګني هغه به ما په كلاره پريږدي اوراته څه نه وايي لوبه كم عقلي او ليونتوب دي ، يوه اوغيرتي خلك هغه دي چي له دښمن نه د ګيلو كولو رسم پريږدي اوپرځاي بي دهغه دمقابلي لپاره خپله ملاوتړي هغه لوازم اواسباب برابركړي چي دښمن پري ختمولي شي ځكه چي په انساني تاريخ كي ددښمن دختمولو اوناكامولو لپاره همدغه شيان په كارراغلي، نه ګلي اوشكوي ، اسلامي تاريخ دجهاد او دغزواتو له كيسو نه ډك پروت دي ، مسلمانانو چي دكافرانو په خلاف كوم تاكتيكونه اولاري استعمال كړيدي هغه حرف په حرف او هو په هو مور ته نقل شويدي . خوله بده مرغه مور پدي لړكي د ګيلو ګوزارو دكولونه پرته عملي ګام موندي اوچت كړي ، دهرچا په ژبه داخبره ده چي زمور په خلاف غرب اوشرق لاسونه يوكړيدي ليكن ددي لپاره چي دهغو له شرارت نه ځانونه وساتي او ورته ماته وركړي عملي ګام اوچتولوته تصميم نه نيسي ،هرڅوك په ګړيدلوسترګو وبني چي دښمن توره په لاس دآخري ګوزاريه لټه كي دي خوخپل ځان ددفاع لپاره څه تدابيرنه نيسي ،لدي نه به لويه بدبختي نوره څه وي چي دښمن دي ستا په سرولاړوي ليكن ته دخپلي دفاع پرځاي غلي ورته ګوري . پدي كي شك نشته چي كفر پخپلو كي يوموټي شويدي او په افغانستان كي دخپلي خوښي حكومت دجوړولو په تكل كي دي ليكن سوال دادي چي ايا دهغوي مخه يواځي په واويلا اوبه چغو نيول كيداي شي اوكه يومنظم حركت اوتاكتيك ته ضرورت دي . لدي نه هيڅ څوك سترګي نشي پټولي چي ددښمن برغل يواځي په واويلا او ګيلوګوزارو په شانتي تنبول كيداي نرخو يوري چي په پوره ميړانه مقابله يي وشكړي شي او هغه مادي اومعنوي وسايل اواسباب برابرته كړي چي دجنګ لپاره حتمي اوضروري دي دلوي الله (ج) په فضل دجنګ په ډګركي دافغانستان مسلمان وګړي ساري نلري او دتاريخ په هر پړاو كي يول برغلګرخواكونه بي له ماتي سره مخامخ كړيدي اوس چي دګردي نړي كافران پخپلو كي يوموټي شويدي او دافغانستان دمسلمان ولس په سرلوي ګذار ته ملاتړلي ولاړ دي نو دحالاتو شرايطو اونزاكتونو په نظر كي نيولو سره دافغانستان غيرتي ولس ته هم پكاردي چي دوي هم دلا پياوړتوب په خاطر پخپلو كي سره نږدي او يولاس شي ځكه چي دمكار دښمن دماتولو لپاره دهمدي كار ډير زيات ضرورت دي . دافغانستان دمسلمان ولس بري اودكاميابي راز په اتحاد او يووالي كي رانغښتل شويدي ، دښمن توراه هري ناحيي نه مايوس شويدي البته دهغوي په وراندي براخيني خاليګاه دافغانستان دمسلمان ملت ترمنځ بي اتفاقي ده چي دهمدي لاري له ګټه اوچتول غواړي ،كه لرغونډي څيرشو نومور ته داحقيقت لكه لمرڅرګنديږي چي بي اتفاقي اوافتراق داسي يوه ناروغي ده چي دښمن نور له هرڅه نه زيات ګټه تربنه پورته كولي شي ،كه يو لښكر څومره غښتلي او قوي وي خوچي پكي يوځلي دبي اتفاقي ناروغي ولګيږي نوبيا ناكامي دهغه مقدروګرځي تاريخ پدي ګواه دي چي مسلمانانو كه ماته خوړلي نو يواځي دبي اتفاقي په وجه يي خوړلي ده . پخپله دافغانستان دجهاد تاريخ هم پدي ګواه دي چي دښمن په جنګي ډګركي له ماتي نه وروسته خپل ټول زوور دافغانانو ترمنځ دبي اتفاقي پيدا كولو ته وقف كړيدي ترڅو لدي لاري نه بري تر لاسه كړي خوانشا الله تعالى زمور باوردي چي افغانان به خپل وياړلي تاريخ ته داغ داره كوي اودپخواپشان به يي روښانه اوبيارلي ساتي . دافغانستان مجاهد اوقهرمان ولس ته داتفاق او يووالي قدراوقيمت او احساس له هرچا نه زيات دي ځكه چي ددوي تاريخ له جهاد نه ډك دي اوټول عمريي په جهاد كي تير كړيدي .

له چنګيزخان نه نيولي ان تر انګريز اوروس پوري ددنيا ټولو ظالموځواكونو سره پنجي اچولي او يواځي ،يواځي دايمان په جذبه اوديووالي په وسلهٔ ورته ماته وركړيده نن هم ددي وخت رارسيدلي دي چي دپنځلسو لكو شهيدانو ، كونډو رنډو يتيمانو معلوړو اوبالاخره دټول مسلمان ملت دارمانونو دتحقق په خاطر دافغانستان مجاهد ولس پخپلوكي يوموټي او يولاس شي ځكه چي ددښمن ترلي ارادي له همدي لاري نه شنډولي شي اوبس ، دهر دردمن اواسلام سره مينه لرونكي افغان يواځيني آرزو اوهيله دتنظيمونو دمشرانو اومجاهدينو ترمنځ يووالي اواتفاق ليدل دي او په ډيره مينه غواړي چي ټول افغانان دي داتفاق په منظم صف كي ودريږي ، حقيقت دادي چي دافغانستان دمجاهدواومسلمان ولس ترمنځ داختلاف هيڅ اصل اوبنيادنشته،ټول ديوالله ديورسول ديوقرآن ديوسنت اوديومذهب پيروان دي هريو په افغانستان كي ديوه سوچه اسلامي حكومت غوښتو نكي دي ،سره لدي نه كه څوك افتراق اوانتشارته لمنه وهي اونه پريږدي چي خلك يو لاس شي هغوي په اصل كي داسلام اودافغانستان دخاوري دبسمنان دي ، هغوي غواړي چي دذاتي ګټو پرځاي دافغانستان دوګړو اجتماعي ګټي قربان كړي ، هغه عناصر چي دخپلو ذاتي ګټو ترلاسه كولو اوپه افغانستان كي دكافرانو سره دسازش په نتيجه كي اقتدار ته درسيدو په خاطر تفرقي اوبي اتفاقي پيداكوي هغوي نه خود اسلام خيرخواه دي اونه دملت بلكي دوي هم دامريكا او دروس په شان داسلام اودافغانستان لوي دښمنان دي . ددي لپاره چي دغرب اوشرق او ورسره د هغوي سازشي عناصر پخپلو ناوروعزايموكي ماته وخوري دافغانستان ټولو جهادي تنظيمونو اومجاهدينوته پكاردي چي په لړي ګام كي له هرڅه نه مخكي يوموټي او يوآوازشي اود مخكي په هره لويشت كي په پوره يووالي ددښمن مقابله وكړي ځكه چي ددښمن مرګ له همدي لاري نه يقيني دي ، كه دجهاد مشران،قومانداناني اومجاهدين غواړي چي په افغانستان كي يو بشپړ اسلامي حكومت راشي اوهغوي په آينده كي خپلواك ژوند تيركړي اويه آزاده فضا كي په هسكه غاړه وګرځي نوله هرڅه نه مخكي دي دبي اتفاقي ټول بتان مات كړي اوداللهي غوبښتني سره سم داتفاق او وروورګلوي لاسونه يويل ته وركړي اوكه خداناخواسته پدي نازك اوحساس پراوكي هم د خپل دبي اتفاقي لري جاري وساتي نوالله مكره دوي خپل اودټول مسلمان ملت بي عزتي ته پخپله دعوت وركوي ، ديو بلا ،مصيبت اوناروغي نه هله نجات موندل كيداي شي چي دهغه نه دخلاصون لپاره ټول لازم تدبيرونه ونيول شي .

دكفري سازشونو اوغلامي څخه مور هله خلاصون موندلي شو چي ورته لازم تدبيرونه ونيسو چي هر څه نه قوي اوضروري تدبيراتفاق او يووالي دي كه مور داتفاق اويووالي په صف كي ودريدلو نو انشا الله تعالى دكفر ټول كوششونه ناكام اوهلردي الله دي مور داتفاق په لوي نعمت راغوند كړي .

په نيول شوي كشميركي دكشميري اولس پاخون

انجنير تورګل " خمكي "

شاهين اخترد پاكستان په مشهوره ورځپانه " دي مسلم " دمي په پنځلسمه نيټه په (۳۵۲) ګڼه كي ليكي :

د ۱۹۹۰ م كال دجنوري په نونسمه نيټه چي دمركزله خواجګموهن دكشمير دوالي په حيث مقررشو او وريسي دفاروق عبدالله حكومت له منځه ولاړ، نوپه نيول شوي كشميركي دهند په خلاف دكشميري اولس پاڅون نورهم چټك شو .

دباثلتي حكومت په ماتولو سره دهند حكومت غوښتل چي دكشمير ي مبارزينو مقاومت له منځه يوسي، په كوم كي چي دوزيرداخله مفتي محمدسعيد دلوررابعه سعيدرتښتولو له كبله نورشدت هم پيدا شويدي .

كشميرته دجګموهن په راتګ په بي وزلو كشمير يانو باندي په پراخه پيمانه ظلم او استبداد شروع شو اوپوازي په دريو لومريو ورځو كي دري سو ه بي دفاع كشميريان چي دهندي تيري كوونكو مليشاوو دظلم اوتيري پرخلاف ني اعتراض كاوه، شهيدان كراي شول .

پدي ظلمونوكي دمليشاوو ترڅنګ مركزي احتياطي پوليس قواوي هم برخه اخلي اود" ضدتروريستي " په پلمه ني دكشميري اولس پرخلاف منظم عمليات شروع كړل چي پدي جمله كي دكوربه كورتلاشي اوبندي كول هم شامل وو اوهم دكشميريانو دپاڅون دشنډولو له پاره دنوموړو قواوو له خوامنظم عمليات دوام لري .

دكشمير مسئله له څلورو لسيزو څخه دوام لري اودهندي تيري كوونكو قواوودبي وسلي كشميريانو په خلاف په منظم ډول په ۱۹۴۸ ، ۵٤ -۱۹ - ۱۹۵۳ او ۱۹۶۵ ، ۱۹۶٤ م كالونو كي دبوځي قوي نه كاراخستي دي .

دامنيتي ځواكونو دظلم له كبله كشميري اولس دي ته مجبور شوچي دهندي استعمار په ضد خپله مبارزه منظم اوتيزه كړي اوهمداسبب دي چي اوس ني دكشمير دآزادي په خاطر اودااستعماري جغ دغورځولو له پاره دهندي قواوو سره مبارزه پيل كړي ده اوورځ په ورځ زوراخلي .

دكشميريانو پاڅون اوږدي تاريخي ريښي لري اوهم اجتماعي ، اقتصادي اوكلتوري عوامل پكي شامل دي .

كشمير يوه داسي ستراتيژيكي سيمه ده چي شمال ته ني روس، شرق ته ني چين اوغرب ته ني پاكستان پروت دي اوهندي طرف ته افغانستان اوايران هم پراته دي

نفوس ني تقريباً دولس مليونه دي اوزياتره غرونه ني په واورو پټ دي ، سره ددي چي هندبولوي پوځي ځواك دي، مګر دكشميرمسئله دهغه له پاره يوه ستره معما ګرځيدلي ده .

هند غواړي چي كشمير په خپله ولكه كي وساتي ، مګر كشميري اولس ني پرخلاف مبارزه شروع كړي ده او هند كشميريان خپل دښمنان بولي، اوهيڅ كله نه غواړي چي كشميريان دي دخودمختاره وي اوحتي نه پريږدي چي هغوي دي دخپل سرنوشت دټاكلوله بنيادي حق څخه استفاده وكړي ، سره ددي چي دهند داساسي قانون د ۳۷۰ مادي له مخي اوهم دلومړي وزيراعظم نهرو دوعدي پراساس بياهم كشميريان دلاس پوڅو رژيمونو او تقلبي انتخابي رژيمونو اوحتي دمركزي حكومت لاندي خپل ژوند ته دوام وركوي .

دكابينت ميشن له خواپه ۱۹۴۶ م كال كي داپه نظركي نيول شوي وه چي دهند شاهي رياستونو ته دااختيار وركول كيږي چي دمذهبي اكثريت په اساس دهند يا پاكستان سره يوځاي شي .

دهند دتقسيم پروخت دجمو اوكشمير - رياست واك دهري سنګ په لاس كي ؤ ، څوك چي دګلاب سنګ له اولادي څخه ؤ اوګلاب سنګ په خپله دوګره راجپوت ؤ چي په ۱۸٤۶ م كال كي ني داوونيمو ميليونو كلدارو په بدل كي كشمير اخيستي ؤ اوهم ني بريتانيا ته لږ شانته باج وركاوه .

خپله په رياست كي مسلمانان ۷۸ - فيصده وواوپه ټوله وادي كي د مسلمانانو فيصدي ۹۳ وه .

په جغرافيائي اواقتصادي لحاظ هم كشمير له پاكستان سره نږدي اړيكي درلودي .

دڅلورولسيزو په دوران كي دنفوسو دتغيير پاليسي تعقيب شوه چي دهغي پراساس د ۱۹۸۱ م كال دشماري په بنيادمسلمانانو اكثريت ۱۹، ٦٤ فيصده وښودل شو. مګرددي پرعكس مسلمانان په ټوله وادي كي ۹۰ فيصده نفوس تشكيلوي. ښكاره ده چي كشمير پردوو برخو وبشل شوي دي چي دوه پردري برخه ني هند نيولي ده اواوه ميليونه نفوس لري اويوه پردري برخه ني آزادكشميرتشكيلوي په داسي حال كي چي زيات شمير كشميريان بريتانيا اودنړي په نورو هيوادونو كي خواره واره دي

دتقسيم په وخت كي دكشميريانو دوه رهبران شيخ عبدالله چي دملي كانګرس مشرؤ او غلام عباس دمسلم كنفرانس مشرؤ، په زندان كي وو،نوبدي اساس مهاراجانه دكشميريانو پرسرنوشت دلوبو كولو له پاره ښه زمينه مساعده وه .

دهند اخيرني وايسراي مونټ بټن هم دهند په طرفداري رول لوبولي ؤ خو كله چي دكشميريانو عكس العمل څرګندشونو نوموړي كشميرته سفروكړ اوپه ظاهره ني دمهاراجانه وغوښتل چي له هند ياله پاكستان سره دي الحاق وكړي .

د ۱۹۴۷ م كال داګست په لومړيو ورځوكي م . ك . ګاندي هم كشميرته ولاړاو مهراجا يي دي ته تشويق كړ چي خپل وزيراعظم رام چند راكاك دمستقل كشميردملاترله كبله ، برطرف كړي .

مهراجاله مسلمانانو څخه وغوښتل چي وسلي دي پوليسو ته تسليم كړي ، مګرمسلمانانو دهغه اطاعت ونكراودهند مركزي حكومت هم دمهاراجاملاتړوكړ .

•دجموپه سيمه كي چي هندوانو اوسكانو اكثريت درلود، ددووسوورزوڅخه زيات مسلمانان ووژل شول اوله پنځوسوورزوڅخه زيات ني دخپلوكورونو څخه بي ځايه اومغربي پاكستان ته په هجرت مجبورشول .

دكشميري مسلمانانو دعامي وژني دبدل اخيستلو دپاره دپاكستان دصوبه سرحد قبائل دجهادله پاره كشميرته لاړل اوپه ۱۹۴۷ م كال داكتوبر په ٢٤ نيټه مهاراجا هندته دمرستي ترلاسه كولو اعلان وكړ .

دمونټ بټن په مشوره دهند حكومت په ځواب كي دمهاراجانه وغوښتل چي لومړي دي دهندسره دكشميرالحاق اعلان كړي . اوله بلي خوا څرګنده چي په كشميركي دمسلمانانو اكثريت دي . نوالحاق بايدعوامو له رائي سره ترلي وي او دقبائلي مجاهدينو ترايستلو وروسته دابايد دريفرنډم په نتيجه كي معلوم شي

د ۱۹۴۷م كال داكتوبر په ۲۷ نيټه مونټ بټن مهاراجاته وليكل چي :

" درياستونو دپاليسي په پاره كي دابايد واضح شي چي دالحاق مسئله بايد عواموته ووړاندي شي اوزمادحكومت داغوښتنه ده چي دقانون دبيانفاذپروخت كي بايد دامسئله عواموته ووړاندي شي " .

د۱۹۴۷م كال دنومبر په دوهمه نيټه له آل انډياراډيو څخه جواهر لال نهرو داخبره تائيد كړه چي : " مور دااعلان كړيدي چي دكشمير كشاله بالاخره بايد دكشميريانو په واسطه حل شي، مور داتعهد كړيدي اومهاراجاهم دامنلي ده ، داخبره مورنه يوازي دجمو اوكشمير عواموته كړي ، بلكه دټولي نړۍ خلكوته كړي ده . څه وخت چي فضا آرامه شي موږدي ته تيارپو چي دملل متحد ترسرپرستي لاندي ريفرنډم وشي، مور غواړو چي دابه يوه جايزه فيصله وي اومورټول به دافيصله منو " .

دغسي دهند ګورنر جنرال او وزيراعظم دواړو تعهد كړي دي چي دكشميرمسئله دي دعوامو دخواهشاتو سره سمه حل شي .

دپاكستان صدراعظم لياقت علي خان دالحاق مسئله يوه دوكه وګڼله اوونې ويل چي : " داالحاق دكشمير دخلكو داكثريت پرخلاف دي ، اونشي كيداي چي په اخلاقي، قانوني ، جغرافيائي، اقتصادي، كلتوري اومذهبي بنيادونو دهغه جواز پيداشي " .

دالحاق نه داڅرګنده شوه چي يوازي هندو مهاراجا داكاركړي دي اودكشمير په اولس پوري هيڅ ارتباط نلري .

د ۱۹٤۸م كال دجنوري په لومړي نيټه هند دپاكستان پرخلاف دامنيت په شورا كي دڅلورم فصل اود ۳۵ مادي پراساس چي دكشالو سوله ايزحل غواړي رسمي اعتراض وكړ اوته داووم باب پراساس چي دتجاوزدمسئلي سره ارتباط لري اوبيا وروسته هند هميشه پاكستان په دي تورن كړچي پركشميرني تجاوزكړيدي .

همدارنګه مهاراجاچي په ۱۹۴۷ م كال كي مونټ بټن دملاتړله كبله كوم خط استولي ؤ، په هغه كي هم دپاكستان له خوادتجاوزهيڅ ذكرنشته اوليكي چي : " په موجوده اضطراري حالاتوكي زمادپاره له ستاسي ملاتړڅخه بله لاره نشته او داملاتړ دهند سره دكشميرله الحاق نه پرته امكان نلري " .

دخط له متن څخه يوره څرګنديږي چي مهاراجادځان دپاره انديښمن ؤ او دكشمير دخلكو فكرورسره نه ؤ اوغوښتل ني چي دهنديوځي ملاتړپه وسيله خپل قدرت وساتي .

داوږدومباحثو څخه وروسته دامنيت شورا دي نتيجي ته ورسيده چي دكشمير كشاله دي دازاد، بي طرفه ريفرنډم په ذريعه چي دملل متحد ترسرپرستي لاندي به صورت ونيسي، حل شي.

نوپردي اساس دكشمير دكشالي دحل له پاره دامنيت دشورا د۱۹٤۸م كال داګست ددېارلسمي، اود ۱۹٤۹ م كال دجنوري دپنځمي نيټي فيصلي دبنياد په حيث وپيژندل شوي، مګردهغو دعملي كولو له پاره څه اقدامات ونه شول .

اوبوازي د ۱۹۶۹ م كال دجولاني په ۲۷ نيټه دوزيندي كرښه تعين شوه اوبيادامنيت دشوراله خواپه ۱۹۵۷م كال كي يوه اعلاميه منظوره شوه چي د ۱۹٤۸ م كال داپريل د۲۱، د۱۹٤۸م كال دجنوري ددريمي ، ۱۹۵۰ دمارچ څورلسمي او د۱۹۵۱ دمارچ د۳۱ نيټي قراردادونه بي بياتائيد كړل ، په اړيانوونكي توګه نهرودريفرنډم په مسئله كي دتذبذب نه كاراخيست اوبالاخره په ۱۹۵۲ م كال كي ني له ريفرنډم څخه انكاروكړ اوپاكستان ني په دي تورن كړچي له امريكا سره ني يوځي معاهدي لاسليك كړي دي . "

نهرو وويل چي : " دكشميرخلكوته رجوع كول امكان نلري اودالحاق معاهده آخري اوله اخيستل كيدونكي ده " .

ترددي وروسته هند دكشمير دقانوني وحدت په باره كي هلي ځلي شروع كړي اودهند په اساسي قانون كي ني ۳۷۰ ماده شامله كړه چي قبول شوي كشميرته ني دخودمختاري وعده پكي كړي وه اوبياني دشيخ عبدالله سره په ۱۹۵۲ م كال كي په دي برخه كي يوه معاهده هم لاسليك كړه ، داپه داسي حال كي چي په ۱۹۵۳ م كال كي داګست په نهمه نيټه ني شيخ عبدالله برطرف كړ اوپه ۱۹۵٤ م كال كي ني دصدارت دفرمان پراساس دوزيرانو كونسل ته چي كوم اختياروركړل شوي ؤ، بيرته ورڅخه سلب شو اوهم ني دقانون جوړولو حق محدود كړ

نور بيا

حج ياكنگرهٔ جهاني اسلام

مناسك حج را به بيهوده نگيرد و دربدل ثمن قليل روح مناسك راتغييرندهد ، زيرا امكنهٔ مقدسه ومناسك مبارك حج بعنوان بهترين ميعاد گاه قبول توبه ومنشانزول رحمت الهي نسبت به بندگان است .

دركنگرهٔ حج هرسال از تمام اقطارعالم نمايندگاني براي اشتراك درآن دعوت بعمل مي آيد تا اين ها در بازگشت از معركه عقبه وقربانگاه اسماعيل درين محفل ميمون حضور يابند وبگواهي خداوند با ابراهيم (ع) بنيان گذار كعبه تجديد عهد كنند وبا آنچه كه از رمي جمرات وذبح قرباني آموخته اند ، در راه پالايش نفس وطرد طواغيت اهتمام نمايند وتجديد عهد كنند ازآنچه كه درپوشيدن جامه يكرنگ ويكنواخت براي شان دست داده وتجديد عهد كنندراز آنچه كه در چرخش كعبه وسعي صفا ومروه فراگرفته اند وبالاخره تجديد عهد كنند ازوقوف عرفات ومبيت مزدلفه كه براي انسان يكجهان معنويت ارمغان داشته است . اينها همه آجنداي بحث اين كنگرهٔ عظيم است و هدف تدبيرآن استقرار نظام توحيد در سراسر جهان ،درهم شكستن طواغيت واوثان ،گسترش روحيهٔ اخوت وهمبستگي ،رفع نيازمنديها ومشكلات وتعميم جهاد براي وصول به اين مقاصد است . دركنگرهٔ حج واقع منى است كه سال يكبار مسلمانان با درنورديدن مرزهاي بسته خاك وخون وحصار هاي آهنين حاكميت وتماميت به دعوت پروردگان بيرون مي آيند. دراين وادي بي آب وعلف ،درزير سقف آسمان دركنگره ايكه ازپوليس وحاجب وناظم اثري نيست ، درفضاي باز باهمديگر آزادانه مي انديشند ، حرف ميزنند . مسايل را طرح ميكنند وراه حل آنرا ميجويند واز تمام همفكران شان درجهان ياري ميخواهند ، در فيصله هاي كنگره هيچ جايي براي اعتراض نيست زيرا ازكشوري وملتي ومنطقه اي وزباني ونژادي ومذهبي و طبقه اي وقشري درين اجتماع حتما نماينده اي حضور دارد وهمگان در تصاميم مساويانه سهيم اند وزور گويان را مجالي براي تظاهر غرور وافتخار (حق ويتو) نيست زيرا آنچه كه موجب امتياز وتفوق بود اعم از نشانه ها و درجه ها ،رنگها وفاصله ها باورود به اين سرزمين مقدس ومعلي مخصوصاً " درميقات ، ديگر وجود ندارد ودرين گروههايي همه يك وجود دارند كه انسان است ويك صفت دارند كه حاج است.

نبوي ارشاد

يوسړي دحضرت رسول الله صلي الله عليه وسلم حضورته راغي اوپوښتنه يي وکړه : اي رسول الله ! څه شي حج واجبوي ؟ حضرت وفرمايل : زاد اوراحله يعني دلاري لګښت اودحمل ونقل وسيله.

ترمذي وابن ماجه

دقرباني اختردقرباني اووحدت درس

زموږمسلمان ملت تورهم قرباني ته تيارشي ، صبراواستقامت له لاسه ورنکړي نوحتما" به دکفري اواستعماري ځواکونو اوسني توطيې خنثئ کيږي اوپه افغانستان کي به اسلامي حکومت راځي، هغه چي دمليونو شهيدانو دزړه ارمان دي .

دغه هدف ته به زموږمسلمان ملت په آساني سره رسيږي په دي شرط چي دلوي اختردويم سبق (ديوالي اواتحاد) درس هم خپل کړي، که زموږ مجاهد ملت او مجاهد مشران دهغو حاجيانو اوزيارت کوونکو په شان چي دلوي اخترپه مبارکو ورځوکي لوڅ سراو پيلي پښي دلوي خداي (ج) په حضورکي لاس په دعادريږي اودحج مراسم پرځاي کوي ، دهمدغسي اتحاداو يووالي مظاهره وکړي ، يوپربل ځان غوره اوبرترونه بولي ، ټول مذهبي، ژبني ، سمتي اوتنظيمي تعصبونه مات کړي، په يو لاس اويوغږ پردښمن ګرزاروکړي ، بيشکه چي دبريالیتوب لوړوپوړيو ته به وخيژي .

خداي (ج) حکيم ذات دي اوهيڅ کاريي له حکمت څخه خالي نه دي ، دحج په مراسمو کي ، انسانانوته دادرس ورکوي چي ټول انسانان دخداي (ج) په حضورکي يوشان دي، توريه سپين فضيلت نلري اوسپين په تور، پادشاه په ګداغوره نه دي اوګدا په پادشاه،عرب اوعجم دواړه سره يوشان دي، ټول دخداي (ج) په حضورکي يوشان ودريږي ،يوازي تقواده چي خداي (ج) ته انسان ورنږدي کوي اوبس .

لنډه دا چي په عام ډول مسلمانان اوپه ځانګړي توګه زموږ مسلمان ملت بايد داختر ورځي هسي عادي ورځي ونه ګڼي بلکي هغه درسونه چي پکي نغښتي واخلي اودعمل په ډګرکي يې پلي کړي، دخداي (ج) په لارکي هرډول مالي اوځاني قرباني ته آماده شي ، يوبل ته ګذشت وکړي، په اتحاد اووروولي ددښمن په وړاندي ودريږي نود اسلام دښمنو ځواکونو ټولي توطيي به خنثئ کيږي اولکه څنګه چي يي روسان مات اوروسوا کړل همداسي به دهغوي ګوډاګيان هم په ګونډوکيږي او په افغانستان کي به دمجاهدينو په لاس اسلامي حکومت راځي . ان شاء الله

دروسيي دفدراسيون جمهور رئيس امريکاته ولاړ

مسکو دغبرګولي ۲۹ :

په خبرونوکي ويل شوي چي ګورباچوف دهغي موافقي په باب رضايت لري چي ددوشنبي په ورځ دنه جمهوريتونو دمشرانو سره ديووالي دترون دمسودي په هکله وشوه دغه موافقه که کرملين او دشوروي دجمهوريتونوترمينځ رابطه تينګوي ، په يوبل خبرکي راغلي چي دروسي دجمهوريت دفدراسيون جمهوررئيس بوريس يلسن چي دحلورووړځوليپاره واشنګټن ته راغلي وائي غواړي چي دامريکا سره مستقيمي اومخامخ خبري پيل کړي هغه پرون امريکاته درسيدوپه موقع وويل دغسي خبري به دامريکا اوشوروي اتحادترمينځ ددېرو مضبوطو اوقوي روابطو سبب شي هغه وويل دروسيي دجمهوري رياست دتيري هفتي انتخابات دډيموکراسي اواقتصادي اصلاحاتو په لوري يوتاريخي اقدام دي .

کابينه جديد الجزاير اعلان شد

الجزيره - ۲۸ جوزا :

درکابينه جديد احمد غزالي نخست وزيرالجزاير که شب دوشنبه معرفي شد اصغرابراهيمي وزيرکل اتحاديه عرب به عنوان وزيرامورخارجه اين کشور تعين شد

بگزارش خبرگزاري رويتر درکابينه ۲۸ نفري الجزاير پنج نفر ازاعضاي حکومت قبلي درمقام هاي شان باقي ماندند، نفيسه لليام بعنوان وزير بهداشت تعين ووزارتخانه جديدي بنام حقوق بشر ايجاد شد .

تظاهرات عليه شاه وشاه پرستان دراسلام آباد

اسلام آباد - ۲۹ جوزا :

قراراطلاعات واصله ديروزيك تعداد ازمحصلين هاشمند وبااحساس درجوارهوتل هاليدن جمع شده دست به تظاهرات زدند .

درخبرمیايد که درحدود ۴۰۰ محصل ازکانونهاي علمي پشاوروواسلام آباد تحت قيادت تنظيم اسلامي محصلان افغانستان درنزديکي هوتل هاليدن که اکنون چند چهرهٔ ازطرف داران شاه سابق افغانستان درآنجابودوباش دارند، دست به تظاهرات زدند وعليه ظاهرشاه وطرح پنج فقره يي پريزديکوئبار شعاردادند .

خبرعلاوه ميکند که اين مجلس احتجاجي باتلاوت چند آيت ازقرآن عظيم الشان توسط انجنيرمحمدصديق آغازويه تعقيب آن محمديعقوب متعلم ليسه صديق اکبر آجنداي محفل را به زبان اردو توضيح نمود، سپس برادرمخبت پرده ازچهره هاي شاه وشاه پرستان برداشت، درين محفل برادرمتواضع نيز سخنراني نمود . دراخير قطعنامه که به لسان انگليسي ترتيب شده بود توسط برادر محمدياسين متعلم ليسه عمرثاني قرائت گرديد . محفل باراهپيمايي مختصردر اطراف هوتل ساعت ۶عصرخاتمه پذيرفت.

گوشهٔ ازتظاهرات محصلين افغاني دراسلام آباد

فعاليت هاي شهري حوزه مرکزي حزب اسلامي افغانستان درداخل شهرکابل طي ماه ثور ۱۳۷۰

۲۹ ر۳ر. ۱۳۷ :

مقام دارالانشأ حزب اسلامي افغانستان به نقل قول ازيك منبع مسئول فعاليت هاي شهري حزب اسلامي افغانستان خبرميدهد، که حوزه مرکزي حزب اسلامي افغانستان طيّ ماه ثور سال جاري فعاليت هاي ذيل را درداخل شهرکابل انجام داده اند .

۱- بتاريخ ۵ر۲ر. ۱۳۷ ساعت پنج صبح يك ماين کارگزاري شده درتعمير وزارت مخابرات رژيم ملحد کابل جائيکه درآن وزير مخابرات رفت وآمد داشت انفجارنمود، که درنتيجه خسارات زيادي بدولت ملحد وارد آمد که باوقع اين حادثه تمام محافظين پوسته وزارت مذکورهمراه با توکريوال، همان شب وقوماندان پوسته دستگير وبعداز چند روز ده عسکر ازجمله عساکر بازداشت شده تاحال زنداني ومتباقي رهاگرديدند .

۲- بتاريخ ۷ر۲ر. ۱۳۷ دراثراصابت راکت درتعمير وزارت مخابرات خسارات هنگفت مالي بدولت وارد گرديده ولي تلفات جاني دربرنداشت .

۳- بتاريخ ۷/۸ ر۲ر. ۱۳۷ درمدت ۲۵ دقيقه پنج انفجار يکي پي ديگري وزارت دفاع ووزارت معدن وصنايع بوقوع پيوست که،اين انفجارات دولت ملحد را سخت پريشان ساخت وخسارات زياد جاني ومالي رادربرداشت .

۴- بتاريخ ۶ر۲ر. ۱۳۷ به تعداد شش عراده موترحامل سلاح ومهمات ثقيله دراثر اصابت راکت درقطعهٔ ريشخورطعمهٔ حريق گرديد .

۵- بتاريخ ۱۷ر۲ر. ۱۳۷ يك ماين درسراي نورواقع جنوب تانك لوگر زماني انفجارکردکه شش تن ازافراد رشيد دوستم مصروف فروش اموال غارت شده مردم مجاهد لوگربودند ،که درنتيجه شش تن ازافراد مذکورهلاك گرديدند .

۶- بتاريخ ۲۲ر۲ر. ۱۳۷ دراثراصابت راکت درميدان هوائي کابل يك فروند طياره چهارماشينهٔ نظامي رژيم حريق گرديدوهم چنان درهمين تاريخ به اثر اصابت راکت ديگري يك هنگرميدان هوائي کابل طعمهٔ حريق گرديد .

څوك چي دوهابيت په نوم په مجاهدينوکي اختلاف راولي هغه داسلام دښمنان دي

پيښور - انا - ۲۸ر۳ر. ۱۳۷ :

دمومندوايجنسي په سلګونو تنو ورمه ورځ دګنداو په سيمه کي دخپلو ديني او قومي مشرانو په ګډون له افغان مجاهدينو سره په افغانستان کي داسلامي حکومت ترجوړيدو پوري په خپل دوستانه پيوستون باندي ټينګاروکړ .

دافغان نيوزايجنسي ته په ورکړل شوي رپوټ کي ويل شوي چي ، په دي ستره اوپرتمينه قومي غونډه کي چي درېمه ورځ جوړه شوي وه دمومندوقام ۳۵ تنو عالمانو اومشرانو دخپل تنګبالي اوپاتور قوم په نمايندګي خبري وکړي اوهغه پريکړه ليك يې لاسليك کړچي دغونډي په پاي کي تصويب شوي ؤ .

دمومندو له ايجنسي دقومي غونډي په پريکړه ليك کي ويل شوي: چي زموږ دردمندو قبايلي مشرانو په تيرو لسوکلونوکي له افغان مجاهدينو سره هر رازمرسته کړي اودابه ترهغه جاري وي چي په افغانستان کي بوسوچه اسلامي حکومت ټينګ شي .

دغومشرانو وويل هغوکسانو ته به چي دوهابيت په نوم په مجاهدينوکي مذهبي بي اتفاقي زيانه کړي هيڅکله اجازه ورنکړي چي ددوي له سيموتيرشي . مور دپاکستان دحکومت نه غوښته کوو چي له اوو تنظيمونو پرته دي په پاکستان اوسرحدي سيموکي نورو دفترونوته ځاي نه ورکول کيږي داځکه چي په موږکي به هم دوهابيت په نامه بي اتفاقي راوستلاي شي . هغه ځوك چي دپيسو په مقابل کي وهابيت ته سرټيټ کړي زموږ به غم اوښادي ورسره شليدلي وي .

دي مشرانو زياته کړيده موږهيڅ کفري طاقت ته نه يوسلامي شوي، خپل دين اومذهب موسانلي مذهب پريښودل راته بي ايماني اوبي غيرتي ښکاري اوتل به ني ساتنه کوو موږله افغان مجاهدينو سره دوروري په اساس له هرراز ځمعي پرته مرسته کړي اوکوبه ني . موږ دمومندو ايجنسي مشران به هيڅکله دکابل دملحدرژيم پلويانو اوجاسوسانو ته پخپله پاکه خاوره کي دفعاليت اجازه ورنکړو چي دافغانستان جهادته تاوان ورسوي موږهغه چامخالف بوچي په کونړکي دنورو مجاهدينومخالفت کوي - په کونړکي بوځل بيادګړي شورا دفعاليدلو غوښتنه کوو .

دافغان نيوزايجنسي خبريال زياتوي ددي شانداره غونډي مشري دمومندو ايجنسي داسلامي شورامشر مولويصاحب صاحب الحق او دمومندايجنسي دالدعوة والجهاد دتنظيم رئيس مولويصاحب روح الله په غاړه و .م .

د سروبي په ولسوالي کي دولتي پوستي وځپل شوي

کابل - مېيها دغبرګولي ۱۷ :

دکابل ولايت دسروبي ولسوالي نو مياليو غازيانو دنوموري ولسوالي په بيلابيلو سيموکي دکمونست رژيم پوستي تريريدونولاندي نيولي او ورته ني درانده تاوانونه اړولي دي په هغه رپوټ کي چي له نوموړي ولسوالي څخه ترلاسه شوي ويل کيږي .

دروان کال دغبرګولي دمياشتي په ۱۷ مه نيټه دنوموړي ولسوالي مجاهدينو ديولړبريااليو عملياتو په نتيجه کي چي په دولتي پوستونې ترسرکړل دکمونست رژيم ټولي پوځي پوستي ويجاړي او پکي ګټ شميرکمونستان ووژل شول .

ديوه بل خبرله مخي مجاهدينو دغبرګولي دمياشتي په ۱۵ مه نيټه ديولړنوروبريدونو په ترځ کي چي دنوموړي ولسوالي په مرکزټې سرته ورسول دکمونيست رژيم ۵ کسه دخادغړي او ۸ کسه ملشيان ټپيان شول .

خبرځاي ليکي پدي عملياتو کي له مجاهدينو څخه يوکس په نوم دحاجي سلطان په شهادت ورسيد روح يې دښادوي

۱۴۵ نفردر سريلانکا کشته شد

۲۸ جوزا :

سريلانکا ميگويد ۱۲ چريك جدايي طلب تاميل و ۲۵ عسکرحکومتي درجنگ اخيرکه درناحيه واداليلا بوقوع پيوسته بودکشته شدند . گزارش شده که ده نفر ازسربازان دولتي نيزجراحات برداشتند .

درعين حال رئيس جمهورسريلانکا يك کميسون جديد ۳ عضوي راتشکيل نمودي که درمورد ادعاي قتل دسته جمعي تقريبا ۱۵۰ نفرتاميلي توسط اردو درهفته گذشته تحقيق نمايد .

دکندهارښاردمنزل باغ دپنځم نمبر قوامرکزي ستره ډيپوتباه. شوه

کندهار - افغان نيوزايجنسي :

زموږ مومنو اوبهادرو مجاهدينو دکندهار ولايت په بيلابيلو سيموکي ددښمن پرپوځي ځايونو مرګوني ګوزارونه کړي . په هغو رپوټونو کي چي موږ ته رارسيدلي ويل شوي چي د ۱۳۷۰ کال دغبرګولي په ۱۸ نيټه مجاهدينو دخپلو درنووسلو دډزوله کبله چي په قشله جديدبي سرته ورسول يوعراده جيب موټرددغوله سورليو سره تباه کړي چي په وژل شويو کسانو کي يوتن عاليرتبه پوځي صاحبمنصب هم شامل دي . همداراز دغبرګولي په ۱۷ نيټه ۹ تنه وسلوال پوځيان له قشله جديد نه تښتيدلي اومجاهدينوته تسليم شويدي .

ديوبل خبرله مخي دغبرګولي په ۱۹ نيټه مجاهدينو ددښمن پرموږچلو ددرنو وسلو ډزي وکړي چي دهغوپه اثرددښمن يوموبل زيکاويك ، يوعراده تراکتور اويوعراده پوځي لاري له منځه تللي اودښمن ته دسرتاوان هم ډيرزيات اوښتي دي .

دميهبا ته ديوخبرله مخي مجاهدينو دغبرګولي په ۱۹ نيټه دکندهار ښاردمنزل باغ په پنځم نمبرقواکي دخپلو ارتباطي کسانو په واسطه ددغي قوا مرکزي ستري ډيپوته يوبم ځاي پرځاي کړاي شو چي ددغه بم په چاودلو سره نوموړي ډيپو کاملاً له منځه تللي ده . رپوټ زياتوي چي پدي پيښه کي چي داورلمبي دوراېه بېکاريدي او دخارني ۱۴ تنه عسکراوملیشه وژل شوي ، ۱۹ تنه ټپيان او ۲۳ ميله دهاوان توپونه ، ۱۴ ميله زيکاويك ۲۳۰ ميله دهشکي دوبروزيانو اندازي پوځي مهماتو او لوژيستګي موادوسره يوځاي سوځيدلي . همداراز شاوخواتردي سيموکي ددغي ډيپوڅخه راکټونه لګيدلي دي .

له مجاهدينو څخه يوتن ټپي اويوتن بل دشهادت لوړمقام ته رسيدلي دي . ياددي تل ژوندي وي .

شهادت
بيانگر عقايد وآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان
موسس : انجنير حکمتيار
صاحب امتياز: حزب اسلامي افغانستان
ناشر : رياست ارشادوفرهنگ
سال تاسيس : ۱۳۵۷ هجري شمسي
تحت نظرهيئت تحرير
تلفون : ۶۳۷۸۹ - ۴۲۲۴۰ پشاور
پوست بکس (۱۴۶۵) يونيورستي تاون - پشاور

اقتصادروسيه به سرمايه گذاري خارجي نيازمند است

مسکو ۲۸ جوزا :

گورباچوف رئيس جمهورروسيه برنامه رادرزمينه گشودن بازاراين کشوربه روي صنايع کشورهاي جهان ارائه کرد، پيشنويس اين برنامه قبلا توسط کارشناسان آمريکا وشوروي تهيه شده است . بگزارش خبرگزاري المان والنتين پاولوف نخست وزير روسيه گفت : اقتصاد شوروي به سرمايه گذاري خارجي نيازداره وي اظهارامید واري کرد که باکمك غرب يك صندوق ارزمعتبر جهت کمك به تامين مالي برنامه اصلاحات اقتصادي ومالي شوروي ايجاد شود .

وي افزود ، مسکوبين جنوري ۱۹۹۰ ومي ۱۹۹۱ قرضه خارجي خودرا از ۱۹مليارد دالر به ۱۶۸۰۰ مليون دالر کاهش داده است .

انقلابيون مسلمان لبنان بامزدوران رژيم صهيونستي به زدوخورد پرداختند

لبنان ۲۸ جوزا :

انقلابيون مسلمان لبنان روزسه شنبه درمناطق تحت اشغال رژيم صهيونستي درجنوب اينکشوربامزدوران اين رژيم به زدوخورد پرداختند .

بگزارش خبرگزاري رويتر، منابع نظامي لبنان بااعلان اين خبرگفتند،که اين درگيري سحرگاه روزسه شنبه درمنطقهٔ مرزي اماتوره باسلاح هاي خفيف وثقيل رخداد، جزئيات بيشتري تاکنون ازين درگيري دريافت نشده است . رژيم صهيونستي پس از تجاوزبرلبنان درمقابل انقلابيون مسلمان مجبور به عقب نشيني شدامايك منطقهٔ وسيع اين کشوررا تاکنون دراشغال خود دارد .

درين منطقه نيروهاي رژيم صهيونستي ومزدوران لبناني آنها مستقرهستند .

درقندهارهشت نفرازمزدوران رژيم ملحد کشته شد

ميدپا ۱۵ جوزا :

رپورواصله ازولايت قندهار ميگارد مجاهدين دليرآن ولايت پوسته هاي رژيم مستقر دردشت صوفي راکه درقسمت شمالي شهرکندهارقرارداراند تحت ضربات کوبنده سلاح هاي ثقيله خويش قراردادند راپورعلاوه مي کند درين عمليات هشت نفرازمزدوران رژيم ملحد کشته وتعداد زيادي شان جراحات برداشتند همچنان يك دستگاه توپ دي،سي دشمن منهدم گرديد ، درين برخورد به مجاهدين هيچ گونه آسيبي واردنگرديده است .

په بادغيس باندي مستقيماً له روسيي څخه بمباري کيږي

بادغيس - ميهپا :

دباغيس ولايت څخه په هغو رپوټونو چي موږته رارسيدلي ويل شوي چي دمجاهدينو ديرياليو کفرمحيونکوعملياتو نه په انتقام کوم چي ديوي مياشتي راهيسي دبادغيس ولايت مرکز اوشاوخو سيمي دمجاهدينو ترکلکي محاصري لاندي راغلي، روسي جټ بمباروالوتکي له روسيي نه مستقيما الوتنه کوي او دمجاهدينو مراکز اودولسي خلکوهستوګن ځايونه ترخپلي وحشيانه بمباريولاندي نيولي دي

خوددي سره سره دمجاهدينو عمليات ادامه لري په هغو عملياتو کي چي مجاهدينو د ۱۳۷۰ کال دغبرګولي په ۱۹ نيټه سرته ورسول درژيم ۶۰ تنه مليشي په اسارت نيول شويدي .

ديوبل خبر له مخي دغبرګولي په ۱۸ نيټه دبادغيس ولايت جنوب ته دمقربه سيمي کي ددښمن ۲۰ تنه مليشي مجاهدينو ته پس له هغه نه چي مجاهدينو خپل بريالي عمليات سرته رسولي تسليم شوي دي .

رپوټ زياتوي چي په نوموړي ولايت کي دمجاهدينو اودکابل ګوډاګي رژيم پوځيانو ترمنځ همداوس هم شديد جنګ روان دي .

دپاکستان دسندپه ايالت کي يوقاضي ووژل شو

کراچي دغبرګولي۲۹ :

په خبرونوکي ويل شوي چي څوناپيژندل شوووسله والو پرون يو پاکستاني قاضي چي ديخواني صدراعظمي بينظيربوټو دميړه قضيه ني فيصله کوله ، وېشتلي اووژلي دي .

پوليس وائي نبي بخش جوجيو دخپل محافظ او موټروان سره هغه وخت ووژل شوچي وسله والو پرون په کراچي کي دهغه په موټرډزي وکړي ، وسله وال سړي په موټرکي وتښتيدل اوهيڅادډي پيښي مسئوليت په غاړه نه دي اخيستي ، داقاضي په دي مشهوروو چي مجرمانو ته سختي سزاګاني ورکوي اوپه دي آخرومياشتوکي په يوڅوځانانو چي سړي ني تښتولي وو اوبيسي ني غوښتي وي دعدام امرونه صادرکړي وو . دميرمن بوټوميړه آصف زرداري باندي تورلګيدلي دي چي رشوت ني خوړلي اوپه جنوبي پاکستان کي ديوي سياسي ولي ددبرشوغړودوژلو په توطيي کي لاس لري دسند ايالت اعلي وزير ددغه قتل ملامتي په بيپلزپارټي باندي اچوي .

دکونړ دپيښي ترشادجهاد ددښمنانو شوم لاسونه له ورايه ښکاري